واحد فقيري

واشنګټن، ۲۰۱۳/۰۱/۰۷

# د شپيګل سره د احمد رشيد مصاحبه

احمد رشيد په نړيواله سطح د افغانستان په چارو کي يو وتلی محقق پېژندل سوی دی. هغه يو وخت په ناکامو دولتونو کي د متحده ايالاتو د نظامي مداخلي تود هر کلی کاوه، خو پدې مرکه کي دغه مشهور پاکستانی ژورنالسټ ټينګار کوي چي د غرب انکشافي طرح او نقشه بنيادي نيمګړتياوي لري او بايد بدل سي. احمد رشيد د درېيمي نړی په اقتصادي او سياسي ودي او ثبات کي د خصوصي سکتور تقويه کول حياتي ضرورت ګڼي، او د ملي بورژوازي په نه شتون کي د ملک انکشاف ناممکن ګڼي. احمد رشيد د ارګ څخه سخت مايوس دی، او په هېواد کي يې د قومي تاوتريخوالي او کشمکش په زياتولو تورنوي. هڅه سوې ده چي مرکه ګرده ترجمه سي، خو ځيني محدود جوابونه څه رالنډ سوي دي.

شپيګل: غر ب به په ۲۰۱۴ کي له افغانستان څخه خپل عسکر و باسي. امريکا او ناټو څونه او تر کومي اندازې پوري ناکامه سوي دي؟

رشيد: زما په نظر د درېيمي نړی د انکشاف په اړه د غرب اوسنۍ طرح او ماډل له سره ناکامه دي. غرب پدې نه پوهېږي چي د هغو دولتونو سره څرنګه معامله وکړي چي مرکزي اتوريتي په کي شوربدلي وي او د تجزيي خطر يې تهديدوي. غرب هم په عراق او هم په افغانستان کي ناکامه سوی دی. غرب د دغو هېوادونو د بومي اقتصاد د تقويي او پياوړتوب قابليت له لاسه ورکړی دی. په بل عبارت، نه د امريکا او نه هم د جرمني انکشافي اداري د مشکل د حلولو توان لري. هغوی يوازی موقتي مرستي برابروي او بس. په بيلونهاوو ډالره افغانستان ته ورشوه سول، خو کومه مهمه لاسته راوړنه تري حاصله نه سوه.

شپيګل: د افغانستان غوندي ملکونو لپاره عموما پيسي زياتي وي، نو بيا ولي د غرب طرح ناکامه سوه؟ ولي يې افغانستان ودان نه کړای سوای؟

رشيد: که چيري د ناکامو دولتونو په جوړولو کي خصوصي سکتور په پراخه کچه برخه واخلي، نتايج به يې ښه وي. د افغانستان په شان ناکام دولتونه داسي پانګوالو ته ضرورت لري چي په هغه هېواد کي ژوري ريښي ولري او پانګوني ته شوق او علاقه ولري. هغوی د ثبات راوستلو سره مرسته کوي. خو له بده مرغه د متحده ايالاتو او اروپايي هېوادونو ټول انکشافي پروګرامونو خصوصي سکتور هېر کړی دی.

شپيګل: ايا په افغانستان او سوماليا غوندي ملکونو کي به خصوصي سکتور پانګوني ته هڅول ډېر ګران نه وي؟

رشيد: هو، زه په چلنجونو باندي واقف يم. مګر زه باور لرم چي هلته داسي خصوصي بانکونه، د اسهامو شرکتونه، او پولي موسسات سته چي کولای سي د خپلي پانګي ېنځه فيصده په خطرناکه او بي ثباته ځايونه کي وو هي. مطلب دا دی چي د افغانستان غوندي هېوادونو لپاره د يوه ځايي بورژوا طبقي تشکيل او پر خپلو پښو دربدل حياتي اهميت لري.

شپيګل: متحده ايالات غواړي چي د خپلو قواو تر وتلو مخکي د سولي او ثبات فضا حاکمه کړي او د طالبانو سره خبري وکړي، خو پدې هڅه کي يې خورا محدود برياليتوبونه ترلاسه کړي دي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

رشید: داسي برېښي چي متحده ایالات حتی د مینځګړیتوب قابلیت هم نلري. په قطر کي د طالبانو سره د ناکامو خبرو یو درس همدا دی. ښه به دا وي چي دلته هم خصوصي سکتور دخیل کړای سي، داسي با اعتباره او مشهور موسسات چي دواړي خواوي پرې باور ولري. دولتونه باید د مینځګړو لپاره یوازي د اسانتیاو د برابرولو نقش ولوبوي. د مثال په توګه، د سره صلیب کمېټه د طالبانو سره خورا ښې اړیکي لري. د افغانستان لپاره د سویډن کمیټه پدي ۱۵ کالونو کي ۳۰۰ مکتوبونه په داسي سیمو کي چلوي چي د طالبانو تر کنټرول لاندي دي.

شپیګل: څه چي تاسي وړاندي کوي یو غټ او اساسي بدلون دی؟

رشید: یقیناً، غرب ته پکار ده چي د ناکامو دولتونو په اړه خپله طریقه او طرح بدله کړي. همدا اوس، هیڅ سوپرپاور د سمي لاري د ښودلو قابلیت نلري، خو په عین زمان کي د ناکامو دولتونو شمېر ورځ تر بلي داسي زیاتېږي لکه مسابقه چي یې روانه وي. سږ کال موږ د مالي د سقوط شاهدان وو چي د لبیا د داخلي جنګ سره یې مستقیمه رابطه درلوده. د لبیا او مالي په جنوب کي نیجر هم د ناکامو دولتونو پل اخیستي ده. د سپتمبر له یوولسمي را وروسته، جورج بش او ټوني بلېر دواړو لوړه وکړه چي نور به ناکام دولتونه و نه زغمي ځکه هغوی د ترورېستانو په پټنځایونو باندي بدلېږي. خو نن ورځ ګورو چي د ناکامو دولتونو شمېر زیاتېږي. تېر کال یمن ور داخل سو، او سږ کال د افریقا په صحرا کي پراته هېوادونه ور داخلېږي.

شپیګل: د عراق او افغانستان تر جنګونو را وروسته د بش او بلېر د ژمنو عملي کول ناممکن غوندي ښکاري. داسي برېښي چي په راتلونکي کي به د متحده ایالاتو لپاره ډېره ګرانه وي چي په نورو ملکونو کي نظامي مداخله وکړي.

رشید: متحده ایالات یوازي یو راز مداخله پېژني او هغه نظامي مداخله ده. هغه توپک او جنګ د هر درد دوا ګني. موږ مجبوره یو چي خپل افقونه پراخ کړو او نوري لاري چاري وسنجوو. موږ باید حوصله پیدا کړو.

شپیګل: مګر ایا تاسو په ۲۰۰۱ کي په افغانستان کي د نظامي مداخلي هرکلی نه کاوه؟

رشید: هله زما ګومان دا وو چي افغانان په یوازي سر د طالبانو چاره نه سوای کولای. هغوی داخلي جنګ ستړي کړي ول. هغوی ډېري ماتي خوړلي وې. افغانان په اقتصادي لحاظ د بېنوایانو بېنوا ول. لنډه داچي په ملک کي بې ثباتي په پېخر وه. هغوی له قحطی سره مخامخ ول. هند، پاکستان، او ایران په افغانستان کي نیابتي جنګونه په لاره اچولي ول. هله القاعدې طالبانو ته مالي مرستي ورکولې، او په عوض کي یې پټنځایونه تر لاسه کړي ول. بلخوا، پرته د امریکا له مداخلي څخه بله چاره هم نه وه. نو ځکه هله ما د نظامي مداخلي هرکلی کاوه.

شپیګل: تاسو تل شکایت کاوه چي متحده ایالاتو افغانستان له یاده وایست او عراق ته یې مخه کړه. په افغانستان کي تر نظامي مداخلي راوروسته دوهم ګام باید څه وای؟

رشید: ډېر ساده، اقتصادي انکشاف. کورنی جنګ ختم سوی وو، او طالبانو نور فعال حضور نه لاره. د امنیت د ټینګولو لپاره عسکر ضروري ول. متحده ایالاتو د همدې هدف لپاره په افغانستان کي ۲۰۰۰۰ عسکر واچول، مګر دا شمېر کافي نه وو. نو بنا هغوی امنیتي چاري افغان وارلاډانو ته په کمېشن ورکړې. سي ای اې د هغوی سره سلا مشورې پیل کړې، او همدې کار افغانان حیران او خواتوري کړل، ځکه هغوی له توپکسالارانو څخه ژوره کرکه درلوده.

شپیګل: خو افغانستان ته د بیاودانولو په غرض په بیلونهاوو ډالره ورغلل، په هغو پیسو څه وسول؟

رشید: په ۲۰۰۱ کي، د امریکا انکشافي اداري زه او څو نور کسان دعوت کړو څو د افغانستان د بیاودانولو په باره کي سلامشوره ورکړو. موږ ورته وویل چي افغانستان د لسو کالو لپاره هر کال پنځه بیلون ډالرو ته اړتیا لري. موږ

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

ورته وویل چي دا پیسي به اقتصاد بیا راژوندی کړي، په بنسټي پروژو کي به پانګونه وکړي، او معارف او صحت بیا پر پښو باندي ودروي. موږ ورته وویل چي افغانستان غونډي یو غریب ملک د زیاتو پیسو د هضمولو قابلیت او ظرفیت نلري. هله پنځه بیلونه ډالره چندان زیاتي روپۍ نه وي، خو پدې څو کلونو کي ډېري پیسی افغانستان ته ولاړي، مګر د نا اهلو خلکو جیبونو ته ورغللي او وارلاډانو په کي مېلي وکړې. حال داچي په زیربنایي پروژو باندي ډېري کمي پیسي ولګېدلي، او د اقتصاد اساسي سکټورونو او زراعت ته هیڅ پام و نه سو. موږ هغه وخت په کړهنه کي د زیاتي پانګوني مشوره ورکړه، ځکه افغانستان یو زراعتي ملک دی. خو تر ۲۰۱۱ پوري دا مسله کاملا هېره سوې وه. بالاخره ریچارډ هولبروک لومړی عالي رتبه مامور وو چي دا ضرورت یې درک کړ.

شپیګل: اوباما د افغانستان په پالیسی کي ډېر شیان بدل کړل. هغه د عسکرو شمېر زیات کړ، خو په عین زمان کي یې د امریکایي عسکرو د راوتلو لپاره د ۲۰۱۴ نېټه هم وټاکله. ایا همدا د امریکا بله اشتباه نه وه؟

رشید: همدا د اوباما تر ټولوستره اشتباه وه. اوس امریکا مجبوره ده چي له ۲۰۱۴ هاخوا ته د افغانستان له سمدستي سقوط مخه ونیسي.

شپیګل: تاسو پخپل ژوند کي د دوو سوپرپاورانو مداخلي د سر په سترګو ولیدې، شوروي اتحاد څه شی شاته په میراث پرېښود؟

رشید: شوروي استعماري عنعنې ته وفاداري لرله. هغوی اباد کلي سټ کړل، او زیات خلک یې ووژل. مګر هغوی په عین زمان کي د اوبو بندونه، د برق سټېشنونه، سړکان، او مسلکي مکتبونه جوړ کړل. هغوی کمونستان ول، او د افغانستان لپاره یې هغه خیال او تصور په ذهن کي لاره چي ستالین او لینن د شوروي اتحاد لپاره درلود. د هغوی په نظر پرمختګ کمونزم دی او برق ددې پرمختګ مهم جز دی. مګر نن سبا د کابل برق له اوزبکستان څخه ورځي. هرات ته له ایرانه، او جلال اباد له پاکستان څخه برق اخلي.

شپیګل: د غرب میراث او یادګار به په افغانستان کي څه وي؟

رشید: امریکا استعماري سابقه نلري. امریکا افغانستان ته ورغله او هغه هېواد یې د طالبانو او القاعدی څخه ازاد کړ. امریکا غوښتل چي ژر تر ژره انتخابات په لاره واچوي، او بیا ژر ځان وباسي. د بش حکومت د ډیموکراسی ګرګي او سودایي وو. هغوی فکر کاوه هر کله چي ډیموکراسي تامین سي، نور هر څه خپله سمبړي.

شپیګل: حتی د خارجي عسکرو تر وتلو وروسته هم باید ځیني بهرني پوځیان په افغانستان کي پاتي سي. څونه عسکر باید پاته سي؟

رشید: د امریکا په تخمین د تروریستان د مقابلي لپاره باید له ۱۵۰۰۰ څخه تر ۲۰۰۰۰ پوري عسکر پاته سي. همدا خبره ماته د عراق کیسه را په یادوي. هلته امریکا غوښتل چي ۲۰۰۰۰ عسکر پرېږدي، خو عراقیانو د ګردو عسکرو وتل وغوښتل.

شپیګل: تاسو فکر کوي چي د عراق کیسه به په افغانستان کي تکرار سي؟

رشید: که چیري افغان عسکر د امریکایي پوځیانو وژلو ته د نن په شان دوام ورکړي، د امریکایي عسکرو پاته کېدل به هلته د ډېري مودې لپاره ګران سي. هغوی به څه رول ولوبوي؟ مطلب دا دی چي په ملک کي به د امنیت د ساتلو لپاره په کافي اندازه عسکر موجود نه وي. ایا هله به هم امریکا ته اجازه ورکړه سي چي په افغانستان او پاکستان کي د تروریستانو د وژلو لپاره د ډرون حملو ته ادامه ورکړي؟ دا کار به په ګاونډو ملکونو کي حالات خراب کړي، او هغوی به افغانستان ته د یوه تهدید په سترګه ګوري.

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

شپیګل: ایا تر ۲۰۱۴ وروسته به طالبان د افغانستان په چارو کي – البته که د غرب خوښېږي او کنه- کوم نقش ولري او کنه؟ ایا ملا عمر لا تر اوسه د پخوا په شان د ډېري د عصر اسلامیسټ دی؟

رشید: زه ګومان کوم چي طالبان په هغه اندازه له جنګ څخه ستړي دي لکه نوري خواوي چي ترې ستومانه سوي دي. ښايي طالبان دې نتيجي ته رسېدلي وي چي کورنی جنګ نه سي ګټلای، ځکه ایران او هند د هغوی پرخلاف خپل ملګري تقويه کوي. نو بنا، طالبان به شمالي ټلواله ماته نه کړای سي. که چيري طالبان د ګرده ملک د نيولو خيال په سر کي ولري، د ملګرو ملتونو په شمول به بين المللي ټولنه افغانستان ته شا کړي. هله به د افغانستان سره څوک مالي مرسته نه کوي، او هغه ۴ بیلونه ډالره چي په ټوکیو کي يې وعدې سوي وې هغه به هم له لاسه ووځي. طالبانو ته پکار ده چي د اوسني حکومت سره يوې روغي جوړي ته ورسېږي، ځکه غربي نړۍ د همدې حکومت سره مالي ژمني کړي دي.

شپیګل: پدې صورت کي به طالبان هغه پخواني زاړه طالبان نه وي؟

رشید: زه فکر کوم چي هغوی روغي جوړي ته چمتو دي.

شپیګل: تاسو له حامد کرزي سره د کلونو اشنايي لرئ. د هغه په ارتباط نن ورځ څه نظر لرئ؟

رشید: هغه د ځان په ساتلو کي ماهر او پهلوان دی. مګر هغه په هېواد کي قومي درز لا پراخ کړ. هغه نه د اداري فساد پر ضد مبارزه کړې ده، او نه يې هم د جنايت مخه نيولې ده. هغه قضايي نظام اصلاح نه کړ. هغه خپل لیډرشیپ شخصي کړي دي، او پدې برخه کي هغه د خپل پلار پر پل ګام ايښی دی. د هغه د پلار په زمانه کي هلته په ارګ کي يو پاچا ناست وو، او هغه د قومي مشرانو سره سلا مشوره کوله. پنځوس کاله پخوا، دا شان حکومتوالي يو عادي سیاسي پروسه وه، خو نن سبا شرايط کاملا بدل سوي دي.

شپیګل: په ۲۰۱۴ کي به د جمهوري رياست انتخابات وي. حامد کرزی نه سي کولای چي ځان کانديد کړي. څوک به دده ځای ناستی سي؟

رشید: هغه به د اوسنی کابيني يو غړی وي. هغه به د ده اعتمادي کس وي. مګر که چيري د ۲۰۱۴ هاخوا ته په ملک کي جنګ دوام پيدا کړي، حالات به نور هم پيچلي او خراب سي. د ۲۰۰۸ په انتخاباتو کي حامد کرزي په پيخر تقلب وکړ، ځکه په زياترو پښتني سيمو کي جنګ روان وو او چا رايه نه سوای اچولای. که چيري په ۲۰۱۴ کي هغه ډرامه بيا تکرار سي، د شمال کوم کانديد به انتخابات وګټي. خو افغانستان لا اوس هم دېته چمتو ندی چي غير پښتون جمهورريس ولري.

شپیګل: د نړۍ دوه تاند طاقتونه- هند او چين- د افغانستان او پاکستان ګاونډيان دي، هغوی د کوچنيو هېوادو لپاره څه لري او کنه؟

رشید: له ډېرو کلونو راهيسي، د افغانستان ګاونډ هېوادونه په ملک کي په نفوذ درلودلو باندي عادت سوي دي. حتی پاکستان چي خپله هم د افراطيت پرابلم لري،په لسهاوو تروريستي ډلي په فعالي کي دي، او هم يې اقتصاد پر تتۍ څخېږي، خو همدا پاکستان په افغانستان کي د سوپرپاورتوب خوب ويني. اساسي ټکی دا دی چي ددې جنګ او دايمي بې ثباتی د حل لاره په هند کي تېره سوې ده. تر هغه وخته پوري چي د پاکستان استخبارات او پوځ په کشمير کي د افراطيانو ملاتړ کوي، هند به هيڅکله هم پر پاکستان باندي اعتماد و نه کړي. هند تل د ممبای د ۲۰۰۸ په شان حملو د نورو بريدونو انتظار باسي.

پای

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ